د افغانستان بانک

د افغانستان د مالي رپوټونواو معاملو د شننې مرکز

# د ۲۰۲۴ کال رپوټ



©د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز

د ۲۰۲۴ کال رپوټ



## زمونږ په اړه

د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز یوه ملي مالي استخباراتي اداره ده چې د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون پر بنسټ رامنځته شوې ده.

د دې مرکز د جوړېدو موخه د قانون پلي کوونکو ادارو، څارونکو ادارو او نړیوالو همکارانو په مرسته د پیسو وینځلو او نورو مالي جرمونو له تمویل څخه د افغانستان د مالي سیستم خوندي ساتنه ده. همدارنګه دا مرکز هڅه کوي تر څو مالي مالومات راټول، تحلیل، خپاره او د قانوني پلټنې په موخه د قانون پلي کوونکو ادارو او نورو اړونده عدلي اوقضايي ادارو سره شریک کړي.



### لید لوری

د نړیوالو غورو لارو چارو په رعایتولو سره په هیواد کې د پیسو وینځلو او نورو مالي جرمونو په وړاندې د مبارزې په مخکښ مرکز بدلیدل



### ماموریت

د قانون پلي کوونکو، څارونکو او نړیوالو مماثلو ادارو په مرسته د پیسو وینځلو او نورو اصلي جرمونو څخه د افغانستان د مالي نظام ساتل

د ۲۰۲۴ کال کلني رپوټ عمده ټکي ........ 5
رپوټ ورکوونکي مراجعي ........ 6
د شکمنو معاملو د رپوټونو ترلاسه کول ........ 7
له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو د رپوټونو ترلاسه کول ........ 8
له خارنیزو ادارو سره د قانون رعایتولو اړوند د تحلیلي رپوټونو تبادله کول ........ 9
د نغدي پیسو او بې نومه د معاملې وړ سندونو رپوټونه ........ 10
غیر بانکي مالي سکتور ........ 10
- په افغانستان کې د صرافیو او پولي خدمتونو د شرکتونو کچه ........ 10
- د صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو د حوالې او اسعارو د تبادلې رپوټونه ........ 11
- د صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو د شکمنو معاملو د رپوټ ورکولو پروسې بربېښنايي کول ........ 12

د افغانستان بانک له خوا د امریکایي ډالرو لیلام ........ 13
د مالوماتو راټولولو سرچینې ........ 14
د قضییو تحلیل او څېړل ........ 15
له قانون پلي کوونکو ادارو څخه د ډاډ (فیډبک) ترلاسه کول ........ 18
ملي همکاری ........ 19
تفاهم لیکونه ........ 21
نړیوالي همکاری ........ 21
پلي کېدونکي اقدامات ........ 21
کنګل شوي حسابونه ........ 22
د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز تر نظر لاندی نوملړ ........ 22
د همغږی عالي کمېسیون ........ 24
د قانون رعایتولو د همغږی کمېټه ........ 24
مشخص غیر مالي تشبثونه او حرفې ........ 25
د معلوماتي ټکنالوجی د نوښتونو پلي کول ........ 26
د ظرفیت لوړوني پروګرامونه ........ 26
ترهګری سره د مبارزې اسلامي نظامي ائتلاف په سیمینارونو، سمپوزیمونو او ورکشاپونو کې ګډون کول ........ 27
د ۱۴۰۴ مالي کال لومړیتوبونه ........ 28

## د عمومي آمر پیغام

خوښ یم چې د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز د ۲۰۲۴ زیږدیز کال کلنی رپوټ له تاسو سره شریکوم چې د پیسو وینځلو او د نورو مالي جرمونو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې زیاتې کړنې او لاسته راوړنې رانغاړي. دا مرکز ژمن دی ترڅو د افغانستان مالي سکتور د مالي جرمونو لپاره د ناوړې ګټې اخیستنې څخه خوندي او د پیسو وینځلو او نورو مالي جرمونو پر وړاندې خپله مبارزه جاري وساتي.

د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز  په ټولیزه توګه ۶۳۹ د شکمنو معاملو رپوټونه ترلاسه کړي، چې د ۲۰۲۳ کال په پرتله ۱۵.۱ سلنه ریاتوالي ښيي. که څه هم بیلابیل عوامل کولای شي د شکمنو معاملو د رپوټونو په شمېر اغیز وکړي، خو دا مرکز باور لري چې ددغو رپوټونو په شمېر کې ۱۵.۱ سلنه زیاتوالی په لویه کچه د ظرفیت لوړولو پروګرامونو سره تړاو لري چې ددې مرکز لخوا سوداګریزو بانکونو او پولي خدمتونو شرکتونو ته وړاندې شول. دغو ښوونیزو پروګرامونو د یادو مالي موسسؤ په تشخیصي وړتیاوو کې د پام وړ زیاتولای راوستی دی.

د قضییو د تحلیل په اړه باید ووایم، د ۲۰۲۴ کال په اوږدو کې ددې مرکز لخوا ۱۱۰ قضیې تحلیل شوي چې له دې جملې څخه، ۵۳ یې د څېړنو لپاره کافي دلایل او اسنادو شتون درلوده، چې وروسته د قانون پلي کونکو ادارو سره د نورو کړنو په پار شریکې شوې.

د همغږۍ عالي کمیسیون اتمه غونډه چې د ۲۰۲۴  کال د اګست په ۲۰ مه نیټه ترسره شوه، د پیسو وینځلو او نورو مالي جرمونو سره د مبارزې د رژیم د پلي کولو په څارنه او د ادارو ترمنځ د همغږۍ او همکارۍ په پیاوړتیا کې مهم رول لوبوي.

همدارنګه، د قانون رعایتولو د همغږۍ کمیټې لسمه غونډه د ۲۰۲۴ کال د سپټمبر په ۱۹مه نیټه ترسره شوه. ددغې کمېټې غونډې د هیواد په بانکي سکتور کې د قانون رعایتولو د مهمو مسایلو د بیاکتنې، د پیسو و ینځلو او نورو مالي جرمونه سره د مبارزې د چوکاټ پیاوړتیا، د قانون رعایتولو په برخه کې د نیمګړتیاوو په رفع کولو، د پیسو وینځلو او نورو مالي جرمونو سره د مبارزې لپاره د هڅو همغږي کولو او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا (UNSCR) د پریکړه لیکونو د اغیزمن پلي کولو کې خورا مهم رول لري.

سربیره پر دې، دې مرکز د مالوماتو د تبادلې څلور تفاهم لیکونو بیا ځلي لاسلیک کړل ترڅو د پیسو وینځلو او نورو اړوندو مالي جرمونو سره د مبارزې په برخه کې ګډې همکارۍ پیاوړې کړي.

د مشخصو غیر مالي تشبثونو او حرفو د سکتور پوښښ لپاره په کابل، بلخ، هرات او کندهار ولایتونو کې د سرو زرو پلورنکو او د موټر پلورنکو سکتورونو په تړاو هر اړخیزې سروېګانې په لاره اچول شوي دي. له دغو سروېګانو څخه ترلاسه شوي مالومات او ارقام یو ارزښتناک لیدلوری چمتو کوي چې د راتلونکو ستراتیژیو په جوړولو کې به ترې ګټه واخیستل شي. همدار راز، د یادو سکتورونو د پوښښ په موخه، د پیسو وینځلو ضد میکانیزمونو د رامنځته کولو په پار د عدلیې وزارت سره ګډه کمېټه جوړه شوه.

د افغانستان مالي رپوټونو او معاملو د شنني مرکز د ۲۰۲۱ کال د سیاسي بدلونونو را وروسته، د نړیوالو اړیکو د ځنډیدو له امله او د شته ننګونو سربېره، هڅې پیل کړې چې د پیسو وینځلو او نورو مالي جرمونو سره د مبارزې په برخه کې له نړیوالو سازمانونو سره خپلې اړیکې بیرته ورغوي.

په دغه کال کې د عملیاتي اغیزمنتیا لوړولو او د قوانینو د ښه پلي کولو په موخه تکنالوژیکي نوښتونو رامنځته کول ددې مرکز له مهمو لومړیتوبونو څخه وو، چې په دغو نوښتونو کې د صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو د قراردادونو لپاره د رپوټونو څارنې ډیټابیس، د سندونو مدیریت سیسټم، د آنلاین لینکونو ته د لاسرسي لپاره د هبلنک پورټل، او د موجودیو مدیریت سیسټم جوړول شامل وو.

په پای کې غواړم د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شنني مرکز له ټولو کارکوونکو او همکارو ادارو څخه چې د ۲۰۲۴ زیږدیز کال د بریالیتوبونو په ترلاسه کولو کې یې له مونږ سره مرسته کړې، د زړه له تله مننه وکړم. مونږ په ډېرې لېوالتیا سره په ۲۰۲۵ کال کې  هم په ملي او نړیواله کچه د خپلو همکار او سیالو ادارو د ژمنتیا او همکارۍ دوام ته سترګې په لار یوو.

# د ۲۰۲۴ کال کلني رپوټ عمده ټکي

**۱۵.۱%**
د ۲۰۲۳ کال په پرتله زیاتوالی (سلنه)

**۴۰**
له غیر بانکي مالي مؤسسو څخه د شکمنو معاملو ترلاسه شوي رپوټونه

**۵۹۹**
له بانکي سکتور څخه د شکمنو معاملو ترلاسه شوي رپوټونه

**۶۳۹**
د شکمنو معاملو ترلاسه شوي ټول رپوټونه

**۳،۳۰ %**
د ۲۰۲۳ کال په پرتله زیاتوالی (سلنه)

**۰،۲ میلیون**
د غیر بانکي مالي مؤسسو څخه له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو ترلاسه شوي رپوټونه

**۰،۳ میلیون**
له بانکي سکتور څخه له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو ترلاسه شوي رپوټونه

**۰،۵ میلیون**
له حد څخه د زیاتونغدي معاملو ترلاسه شوي ټول رپوټونه

**۳**
د صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو تعلیق شوي جوازونه

**۱**
لغوه شوي جوازونه

**۴۱**
کنګل شوي بانکي حسابونه

**۳**
ښوونیز پروګرامونه

**۱۹۵** اشخاص
د مالي رپوټونو او معاملو د شنني مرکز تر نظر لاندې نوملړ کې شامل شوي


**۵۳**
د قانون پلي کونکو ادارو ته خبرې شوي قضیې

**۶۱**
ځواب ورکول شوي داخلي غوښتنې

**۶۲**
ترلاسه شوي داخلي غوښتنې

**۳**
بیا لاسلیک شوې داخلي تفاهم لیکونه

## ریوټ ورکونکي مراجعې




## د شکمنو معاملو د ریپوټونو ترلاسه کول

ریوټ ورکوونکې مراجعې مکلفې دي چې د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د ۱۸مې مادې د مفاداتو پر بنسټ، د شکمنو معاملو ریپوټونه په هغو حالاتو کې ثبت کړي، چې د پیسو وینځلو، له جرمونو څخه د راپیدا  شوو عوایدو او نورو اصلي جرمونو د شکمنتیا لپاره یې منطقي دلیلونه شتون ولري.


دغه ریپوټونه باید زیات نه زیات د دریو کاري ورځو په ترڅ کې د شکمنتیا له رامنځته کېدو څخه وروسته ثبت شي. همدارنګه، هر ډول اضافي مالومات چې تحلیل یا قانونی بهیر اسانه کوي، باید له ځنډ پرته دې مرکز ته واستول شي.


د مالی ریپوټونو او معاملو د شنني مرکز د ۲۰۲۴ کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۶۳۹ د شکمنو معاملو ریپوټونه ترلاسه کړي چې د تیر کال په پرتله ۱۵.۱سلنه زیاتوالی ښیي. لاندې ګراف د ۲۰۲۴ کال د شکمنو معاملو د ریوتونو مفصله احصاییوی ډلبندي وړاندې کوي.

**د کال د میاشتو پر بنسټ د شکمنو معاملو د ریپوټونو ډلبندي**



پورته ذکر شوي رپوټونه تحلیل ته د راجع کولو څخه دمخه په بشپړه توګه څېړل شوي او بیاکتنه یې ترسره شوې ده.




د ناکافي لومړني تحلیل او نورو تخنیکي ستونزو له امله په ۲۰۲۴ کال کې په ټولیزه توګه ۱۰۹ د شکمنو معاملو رپوټونه بیرته رپوټ ورکوونکو مراجعو ته مسترد شوي او د اړینو اصلاحاتو څخه وروسته، یاد رپوټونه بیرته د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز ته استول شوي دي.

سربیره پر دې، د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز د شکمنو معاملو رپوټونو د کیفیت د ډاډمنیتا په موخه یوه جامع او بشپړه تګلاره پلي کوي چې یاده تګلاره د رسمي لیکونو، بریښنالیکونو، تیلفوني اړیکو، ناستو او روزنیزو پروګرامونو په ګډون، د بیلابیلو لارو او چارو څخه ګټه اخلی ترڅو رپوټ ورکوونکو مراجعو ته اړینې کرنلارې او لارښوونې وړاندې کړي.

ددې هڅو موخه د قانون رعایتول پیاوړتیا، د شکمنو معاملو دقت و اغیزمنتیا لوړول او دا ډاډ ترلاسه کول دي چې په استول شویو رپوټونو کې ټول اړین معیارونه په پام کې نیول شوي دي.

## له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو د رپوټونو ترلاسه کول


د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د ۱۷مې مادې پر بنسټ، رپوټ ورکوونکې مراجعې اړ دي چې له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو رپوټونه د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز ته واستوي.


هر هغه نغدي معامله چې ارزښت یې په اړونده مقرره کې له ټاکل شوي حد څخه زیات وي، له حد څخه زیاته نغدي معاملې بلل کیږي. دا رپوټونه باید د میاشتې له لومړی کاري ورځې څخه مخکې او د بعدي میاشتې له پنځمې کاري ورځې څخه وروسته نه وي، په ځانګړې توګه په هغه میاشت کې چې یاده معامله ترسره شوې وي، واستول شي.

لاندې جدول د بانکي او غیر بانکي مالي مؤسسو د رپوټ ورکولو حد په ګوته کوي.

| رپوټ ورکوونکې مرجع | د رپوټ ورکونې حد (افغانۍ) |
|---|---|
| بانکونه | ۱,۰۰۰,۰۰۰ |
| د صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونه | ۵۰۰,۰۰۰ |
| د ورو مالي تمویلونو مؤسسې | ۲۰۰,۰۰۰ |
| د بریښنایي پیسو مؤسسې | ۵۰,۰۰۰ |

لاندې ګراف په ۲۰۲۴ کال کې د افغانستان د مالي ربوټونو او معاملو د شنني مرکز لخوا د ترلاسه شویو له حد څخه د زیاتو نغدی معاملو ریوټونه ډلبندي ښيي.




که چېرته له حد څخه د زیاتو نغدی معاملو ریوټونه د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شنني مرکز د سیستم لخوا د تخنیکي ستونزو له امله مسترد شي، ریوټ ورکوونکې مراجعې اړ دي چې یاد ریوټونه د اصلاح څخه وروسته د راتلوونکې میاشتې تر ۱۵مې نیټې پورې بیاځلی دې مرکز ته واستوي.
دا کړنه د ریوټ ورکولو له مکلفیتونو سره سم، د قانون رعایتولو ډاډمنتیا او د مالي څارنې د روڼتیا په ساتلو کې مرسته کوي.

## له څارنیزو ادارو سره د قانون رعایتولو اړوند د تحلیلي ریوټونو تبادله کول

د افغانســتان د مالي ریوټونو او معاملو د شــنني مرکز د همکاریو د پیاوړتیا په موخه په منظم ډول د افغانســتان بانک د بانکي څارنې او مالي خدمتونو آمریت سره د قانون د رعایتولو اړوند تحلیلي ریوټونه شریکوي چې دغه ریوټونه د بانکونو له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو او شــکمنو معاملو د ریوټونو د کیفیت څرنګوالي او د بانکونو لخوا د ریوټ ورکولو په برخه کې د قوانینو د رعایتول د کچې په ارزولو کې مرسته کوي.

دا ریوټونه څو نورې مهمې برخې لکه؛ له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو او شــکمنو معاملو ریوټونو کې د تخنیکي ســتونزو پېژندل او حل، د پېریدونکو د پېژندګلوي د فورمو نوي کول، له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو او شــکمنو معاملو ریوټونو لپاره د اړینو سندونو راټولول او تاییدول، د ملي او نړیوالو بندیزونو لیستونو پلې کول او د خطرونو ارزونه رانغاړي.
د مالي ریوټونو او معاملو د شنني مرکز د ۲۰۲۴ زیږدیز کال په اوږدو کې ټولټال ۱۲ تحلیلي ریوټونه د افغانستان بانک د بانکي څارنې او مالي خدمتونو لوی آمریت سره شریک کړي دي.

دغه همکاري د افغانستان په بانکي سکتور کې د څارنېزو کړنو د پیاوړتیا په برخه کې د افغانستان د مالي ریوټونو او معاملو د شنني مرکز ژمنتیا ښکاره کوي.

## د نغدي پيسو او بې نومه د معاملې وړ سندونو رپوټونه

په سرحدي ګمرکونو کې د پيسو، اسعارو او بې نومه معاملې وړ سندونو د ليږد کنټرول او رپوټ ورکوونې مقرره چې اوسمهال تر تعديل لاندې ده، پلې کول يې له تېرو څو کلونو کې راهيسې د ځينو ستونزو له امله ځنډېلي دي.
د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز د ۲۰۲۴ کال په اوږدو کې د ګمرکونو د عمومي رياست او نورو اړوندو ادارو سره په همغږۍ، ددې مقررې د تعديل لپاره هڅې پيل کړي دي ترڅو د هېواد د اوسنې اقتصادی شرايطو او د سرحدونو له لارې د نغدي پيسو د فزيکی ليږد لپاره د امارتی مقاماتو لخوا د نوي تاکل شوي حد سره سمون ولري. د يادې مقررې د تعديل مسوده چمتو او د نورو کړنو په پار اړوندو ادارو ته استول شوې ده.

ددې مقررې تعديل سره به د ګمرکونو عمومي رياست وکولای شي د هيواد په نړيوالو هوايي ډګرونو او ځمکنيو بندرونو کې د اسعارو دفزيکي ليږد اړوند رپوټونه ثبت او دغه رپوټونه د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز سره د تحليل او بعدي کړنو په موخه شريک کړي.
د يادولو وړ ده چې د نوي تاکل شوي حد له مخې، هغه شخص چې هېواد څخه دباندې سفر کوي، نشي کولای د هوايي ډګرونو له لارې پينځو زرو (۵,۰۰۰) امريکايي ډالرو او د ځمکني بندرونو له لارې له پينځو سوو (۵۰۰) امريکايي ډالرو څخه زيات له ځان سره ولېږدوي.
تمه کيږي چې ددې مقررې تعديل سره به په سرحدي بندرونو کې د نغدو پيسو ليږد کنټرول لا هم پياوړی، د نړيوالو معيارونو سره مطابقت ډاډمن، او د ملي اقتصادي موخو سره به مرسته وکړي.

## غير بانکي مالي سکتور

- په افغانستان کې د صرافيو او پولي خدمتونو د شرکتونو کچه


د افغانستان بانک د ۲۰۲۴ کال په اوږدو کې ۱۳۲ د صرافيو او پولي خدمتونو شرکتونو ته د فعاليت جوازونه صادر کړي او په دغه موده کې د يادو شرکتونو ۵۵۶ څانګې هم ثبت شوي دي.
سربېره پر دې، د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز د صرافيو او پولي خدمتونو شرکتونو او د دغو شرکتونو څانګو ته د حوالې د رپوټ ورکولو د آنلاين دريڅې (پورټل) نوي کاروونکي جوړ کړل، تر څو د ياد پورټال له لارې خپل رپوټونه دې مرکز ته واستوي.
ياد شرکتونه ددې پورټل په مرسته کولای شي چې په مياشتنۍ ډول د خپلو له حد څخه د زياتو نغدي معاملو د رپوټونو په ګډون، د اسعارو تبادلې او د افغانستان بانک د ډالرو ليلام رپوټونه د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز ته واستوي.

- د صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو د حوالې او اسعارو د تبادلې ریوټونه

د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د ۱۷مې مادې او د صرافانو او پولي خدمتونو شرکتونو د قانون د ۶ مې مادې پر بنسټ، د صرافیو او پولی خدمتونو ټول مجوز شرکتونه اړ دي تر څو د اسعارو د تبادلې او حوالو اړوند له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو ریوټونه د افغانستان د مالي ریوټونو او معاملو د شنني مرکز ته وړاندې کړي. د یادو شرکتونو لپاره له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو د ریوټونو ورکولو حد (۵۰۰،۰۰۰) افغانۍ یا یې معادل په نورو اسعارو ټاکل شوی دی.


د ۲۰۲۴ کال په اوږدو کې د صرافیو او پولی خدمتونو شرکتونو لخوا په ټولیزه توګه ۸۳،۶۷۳ له حد څخه د زیاتو نغدی معاملو ریوټونه دې مرکز ته استول شوي دي. همداراز، د شته احصاییو له مخې، په ۲۰۲۴ کال کې له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو د تیر کال په پرتله ۸.۵ سلنه زیاتوالی ښیي.

لاندې ګراف د کال د میاشتو پر پنسټ، د یادو شرکتونو له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو ډلبندي ښیي.



د افغانســـتان د مالي رپوټونو او معاملو د شـــننې مرکز  په ۲۰۲۴ کال کې د صرافيو او پولي خدمتونو شرکتونو څخه په ټوليزه توګه ۱۷,۹۰۱ د حوالو  رپوټونه ترلاسه کړي دي. د احصايو پر بنسټ، د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز لخوا ترلاسه شوي د حوالې د معاملو رپوټونه د تير کال په پرتله ۷.۴ سلنه زيات شوي دي.

لاندې ګراف د مياشتو پر بنسټ د حوالې د رپوټونو ډلبندي ښيې.




- د صرافيو او پولي خدمتونو شرکتونو د شکمنو معاملو د رپوټ ورکولو پروسې بريښنايي کول

د صرافيو او پولي خدمتونو  شرکتونو د شـــکمنو معاملو د رپوټ ورکولو ســـيســـتم له کاغذي حالت څخه په بشـــپړ ډول بريښنايي سيستم ته اړول ددغو شرکتونو د رپوټ ورکولو په بهير کې د پام وړ بدلون راوستی دی. دا نوی بريښنايي سيستم د معاملو د تبادلې په ګړندي کولو، د اعتبار زياتولو او لاسرسي اسانتيا کې د پام وړ رول لوبوي، او د هيواد په ټولو زونونو کې د دې شرکتونو د کاري پروسې د شـفافيت زياتولو او د رپوټ ورکولو معيارونو د سـم پلي کولو ډاډ ترلاسـه کولو کې مرسـته کوي.

د دې نوښــت د يوې برخې په توګه، د صرافيو او پولي خدمتونو شرکتونو  په کمپيوټرونو کې د رپوټ ورکولو د فورمونو لپاره اړين سافټويرونه او د کوډ کولو ابزار نصب شول چې د مالوماتو خوندي ليږد ډاډمنوي.

د يادسـيسـتم د اغيزمنې کارونې په موخه، په ټولو زونونو کې مسـلکي ښـوونيز پروګرامونه په لاره واچول شـول چې په دغو ښـوونيزو پروګرامونو کې د شـکمنو معاملو فورمې په سـمه توګه ډکول، د اسـتولو څخه دمخه فورمونو ته کوډ ورکول او د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز ته د کوډ شوو رپوټونو په خوندي ډول د ليږد په اړه ګام په ګام لارښوونې په کې شاملې وې.

دغو ښـوونيزو پروګرامونو ډيجيټل پليټ فارم ته د اسـانه ليږد زمينه برابره کړې او کاروونکو ته دا وړتيا ورکوي ترڅو د اړينو مهارتونو په ترلاسه کولو سره، له دغه سيستم څخه په اغيزمنه توګه ګټه واخلي.

دا نوښت د صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو په کچه د شکمنو معاملو د رپوټ ورکولو په برخه کې د هغوي د فعالیتونو د عصري کولو او د مالوماتو د خوندیتوب لوړولو لپاره ددې مرکز ژمنتیا ښیي.

## د افغانستان بانک له خوا د امریکایي ډالرو لیلام


د افغانستان بانک د بهرینو اسعارو د لیلام چې په عمده توګه امریکایي ډالر دي، د افغانیو د ثبات په برخه کې اغیزمن رول لوبوي. د اسعارو دا لیلام د بازار د سیالیت د مدیریت او د انفلاسیون دفشارونو په کمولو کې اړین دی.

د پیسـو وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شـوو عوایدو د مخنیوي قانون د پنځمې مادې په اړانه کې، د صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونه مکلف دي چې د ډالرو د لیلام اړوند د معاملو رپوټونه په بریښنایي ډول د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شـنني مرکز ته واسـتوي. د افغانسـتان بانک لخوا د امریکایي ډالرو د لیلام اړوند معاملو د رپوټ ورکولو په تړاو کوم ټاکلی حد شتون نلري.

د امریکایي ډالرو د بانکنوټونو د حساسیت، ارزښـت او د افغانیو په ارزښـت باندې د امریکایي ډالرو د لیلام د اغېزو په پام کې نیولو سره، ټولې هغه پیسې چې د افغانستان بانک د لیلام د پروسې له لارې معامله کیږي، باید رپوټ یې د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شنني مرکز ته واستول شي.

د یادونې وړ ده چې دې مرکز د ۲۰۲۴ زیږدیز کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه د امریکایي ډالرو د لیلام اړوند معاملو ۴,۸۱۰ رپوټونه ترلاسه کړي دي.

## د مالوماتو راټولولو سرچينې




## د قضییو تحلیل او څېړنه

د ۲۰۲۴ کال په اوږدو کې د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شنني مرکز ټولټال ۱۱۰ قضیې تحلیل کړي دي چې ۱۱ یې مخه نیونکې او ۹۹ انفعالي دي. په دغو قضیو کې د پیسو وینځلو، انساني قاچاق، نشه یي توکو قاچاق، فساد او اختلاس، سازمان شوي جرمونه، مالیاتي جرمونه، درغلۍ او دوکه، د بانکي درغلی معاملې، جعل کاری او د نورو اړوندو جرمونو قضیې شاملې دي.

لاندې جدول د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شنني مرکز لخوا د ۲۰۲۴ کال په اوږدو کې د تحلیل شویو قضییو جزئیات وړاندې کوي.


| شمېره | د شکمنتیا نښې/اصلي جرمونه | د قضیو شمېر | د قضیې ډول | په قضیې کې د ښکېلو حقیقی او حکمی اشخاصو شمېر | د شکمنو معاملو/فعالیتونو د رپوټونو شمېر |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د پیسو وینځل | ۴۷ | ۱ مخه نیونکې | ۱۶ | ۲ |
| | | | ۴۶ انفعالي | ۲۳۶ | ۹۴ |
| ۲ | انساني قاچاق | ۱ | انفعالي | ۲ | ۱ |
| ۳ | د نشه یي توکو قاچاق | ۴ | ۱ مخه نیونکې | ۲۱ | ۸ |
| | | | ۳ انفعالي | ۵ | ۳ |
| ۴ | فساد او اختلاس | ۷ | ۱ مخه نیونکې | ۳ | ۰ |
| | | | ۶ انفعالي | ۴۳ | ۱۱ |
| ۵ | مالیاتي جرمونه | ۱۰ | انفعالي | ۹۴ | ۶۲ |
| ۶ | سازمان شوي جرمونه | ۳ | انفعالي | ۱۹ | ۴ |
| ۷ | جعلکاري، درغلی او دوکه | ۳۲ | ۷ مخه نیونکې | ۲۷ | ۲ |
| | | | ۲۵ انفعالي | ۱۰۰ | ۴۴ |
| ۸ | اختطاف | ۱ | مخه نیونکې | ۲ | ۰ |
| ۹ | نور جرمونه | ۵ | انفعالي | ۲۳ | ۸ |
| | ټولټال | ۱۱۰قضیې | ۱۱مخه نیونکې قضیې ۹۹ انفعالي قضیې | ۵۹۱ حکمی او حقیقي اشخاص | ۲۳۹ د شکمنو معاملو رپوټونه |




په ۲۰۲۴ کال کې د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شنني مرکز لخوا د ۱۱۰ تحلیل شویو قضیو څخه، ۵۳ قضیې چې د پیسو وینځلو او د نورو اصلي جرمونو د شک لپاره یې کافي دلیلونو شتون درلود، د موندنو له رپوټونو، تحلیلي پاپلو او حماییوي اسنادو سره یو ځای د قانون پلي کوونکو ادارو ته د مستندولو، څېړلو او د نورو قانوني اجرآتو په پار خپرې شوې دي.

لاندې جدول د ۲۰۲۴ کال په اوږدو کې د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شنني مرکز لخوا د قانون پلي کونکو ادارو ته د خپرو شویو قضیو شمېر ښیي.

| شمېره | د قضیيو شمېر | قانون پلی کوونکې او نور اړوندې اداري |
|---|---|---|
| ۱ | ۱ | د امنيتي چارو معينيت - د کورنيو چارو وزارت |
| ۲ | ۶ | د جرایمو پر وړاندې د مبارزې او کشف رياست – د کورنيو چارو وزارت |
| ۳ | ۱ | د تحقیقاتو لوي مديريت- د کورنيو چارو وزارت |
| ۴ | ۱ | د تښتوني پر وړاندې د مبارزې عمومي مديريت – د کورنيو چارو وزارت |
| ۵ | ۶ | د جنايي جرايمو د تحقيقاتو عمومي رياست – د کورنيو چارو وزارت |
| ۶ | ۱۱ | د اقتصادي جرمونو سره د مبارزې رياست - د کورنيو چارو وزارت |
| ۷ | ۶ | د تخنيکي هدف ګرځوني (انتک) رياست – د کورنيو چارو وزارت |
| ۸ | ۲ | د استخباراتو لوي رياست (GDI) |
| ۹ | ۱ | د استخباراتو د لوي رياست 091 اداره |
| ۱۰ | ۱۶ | د استخباراتو د لوي رياست 02 اداره |
| ۱۱ | ۱ | د بانکي خارني او مالي خدمتونو آمريت |
| ۱۲ | ۱ | د احصايې او معلوماتو ملي اداره |
| **ټولټال خپرې شوې قضیې** | | **۵۳ قضیې** |




سربېره پردې، د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز د خپرو شویو قضیو اړوند د مالوماتو ۴۲ غوښتنو ته ځواب وړاندې کړی او د څېړنو د پروسې د پراختیا او ښه کولو لپاره یې له اړوندو قانون پلي کوونکو ادارو سره په پراخه توګه همکاري کړې ده.

لاندې جدول په ۲۰۲۴ کال کې د ادارو پر بنسټ د خپرو شویو قضیو پورې اړوند د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز لخوا ځواب شوې ټولې غوښتنې ښيي.

| شمېره | د ادارې نوم | ټولټال ځواب شوې غوښتنې |
|---|---|---|
| ۱ | د اقتصادي جرمونو سره د مبارزې ریاست - د کورنیو چارو وزارت | ۱۴ غوښتنې |
| ۲ | د تخنیکي هدف کرځوني (انتک) ریاست – د کورنیو چارو وزارت | ۱۲ غوښتنې |
| ۳ | د جنايي جرایمو د تحقیقاتو عمومي ریاست – د کورنیو چارو وزارت | ۶ غوښتنې |
| ۴ | د جرایمو پر وړاندې د مبارزې او کشف ریاست – د کورنیو چارو وزارت | ۳ غوښتنې |
| ۵ | د استخباراتو لوي ریاست (GDI) | ۴ غوښتنې |
| ۶ | د غیر بانکي مالي مؤسسو د ځارنې آمریت- د افغانستان بانک | ۲ غوښتنې |
| ۷ | ستره محکمه | ۱ غوښتنه |
| | د اضافي مالوماتو ټولټال اجرا شوې غوښتنې | ۴۲ غوښتنې |

د ۲۰۲۴ کال په اوږدو کې، د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز د قضیو د تحلیل د ښه والي په موخه د بیلابیلو اړوندو داخلي ادارو څخه د مالوماتو راټولولو له لارې د قضیو د اسنادو او پایلو په غني کول باندې په پراخه کچه تمرکز وکړ. ددغو غوښتنو اهمیت خورا زیات دی ځکه چې د متنوع مالوماتو راټولولو کې مرسته کوي او د ادارو ترمنځ همکاري هڅوي.

لاندې جدول په ۲۰۲۴ کال کې د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز لخوا د ادارو پر بنسټ د استولو شویو غوښتنو شمیر ښیي:

| شمېره | اړوندې اداري | غوښتنې |
|---|---|---|
| ۱ | د عدلیه وزارت - د جمعیتونو د چارو ریاست، د همغږی عمومي ریاست | ۱ |
| ۲ | د افغانستان بانک – د کاروونکو د چارو لوی آمریت | ۲ |
| ۳ | د مالي وزارت - د افغانستان د مسلکي محاسبینو اداره (CPA) | ۵ |
| ۴ | د صنعت او سوداګرۍ وزارت - د مرکزي ثبت او فکري مالکیتونو عمومي ریاست | ۳ |
| ۵ | د احصایې او معلوماتو ملي اداره(NSIA) | ۶ |
| ۶ | د اقتصاد وزارت - د غیر امارتي مؤسسو د همغږۍ ریاست | ۲ |
| ۷ | د مالي وزارت – د ګمرکونو لوی ریاست | ۱ |
| ۸ | د صنعت او سوداګرۍ وزارت | ۲ |
| ۹ | د لوړو زده کړو وزارت | ۱ |
| ۱۰ | د پوهنې وزارت | ۱ |
| | ټولټال | ۲۴ |

## له قانون پلي کوونکو ادارو څخه د داړ (فیډبک) ترلاسه کول


د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز د ۲۰۲۴ کال په اوږدو کې د ۵۴ قضیېو په اړه چې د قانون پلي کوونکو ادارو ته استول شوې وې، داړ (فیډبک) ترلاسه کړی دی. یاد فیډبکونه ښیي چې لا هم ډېری قضیې تر کشف، څېړنې او قضایي پروسې لاندې دي، او یو شمېر نورې یې آرشیف شوې دي.

لاندې نوملړ د قضیېو د وضعیت پر بنسټ، د قانون پلي کونکو ادارو څخه د ترلاسه شویو فیډبکونو شمېر ښکاره کوي.

| د ادارې نوم | د فیډبکونو شمېر | د قضیې حالت |
|---|---|---|
| د تخنیکي هدف ګرځوني ریاست (انتک) – د کورنیو چارو وزارت | ۲۰ | ۷ قضیې آرشیف شوې دي |
| | | ۲قضیې تر کشف لاندې دي |
| | | ۱۰ قضیې تر څېړنې لاندې دي |
| | | ۱ قضیه تر عدلي تعقیب لاندې ده |
| ستره محکمه | ۱ | تر عدلي او قضایي تعقیب لاندې ده |
| د جنایي جرمونو تحقیقاتو لوی ریاست – د کورنیو چارو وزارت | ۶ | ۲قضیې آرشیف شوې دي |
| | | ۴ قضیې تر څېړنې لاندې دي |
| د استخباراتو لوی ریاست | ۳ | ۱ قضیه تر کشف لاندې ده |
| | | ۱ قضیه تر څېړنې لاندې ده |
| | | ۱ قضیه د تعقیب لپاره راجع شوې |
| د 02– د استخباراتو لوی ریاست | ۷ | ۲ قضیې آرشیف شوې دي |
| | | ۴ قضیې تر کشف لاندې دي |
| | | ۱ قضیې عدلي او قضایي ارګانونو ته سپارل شوې |
| د 091 – د استخباراتو لوی ریاست | ۷ | ۳ قضیې آرشیف شوې دي |
| | | ۳ قضیې تر څېړنې لاندې دي |
| | | ۱ قضیه تر کشف لاندې ده |

| | | |
|---|---|---|
| د اقتصادی جرمونو پر وړاندی د مبارزې ریاست – د کورنیو چارو وزارت | ۴ | ۱ قضیه آرشیف شوې ده<br>۳قضیې تر څېړنې لاندې دي |
| د جرایمو پر وړاندې د مبارزې او کشف ریاست – د کورنیو چارو وزارت | ۱ | قضیه عدلي او قضایي ارګانونو ته سپارل شوې |
| د افغانستان بانک د غیر بانکي مالي موسساتو د څارنې لوی آمریت | ۱ | د څارنې لاندې |
| د افغانستان بانک د بانکي څارنې او مالی دخدماتو لوی آمریت | ۳ | د څارنې لاندې |
| د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې معینیت – د کورنیو چارو وزارت | ۱ | آرشیف شوې ده |
| **ټولټال فیډبکونه** | | **۵۴** |

د کال پر بنسټ ترلاسه شوي فيډبکونه




## ملي همکاری

په ۲۰۲۴ زیردیز کال کې د افغانستان د مالي ریوټونو او معاملو د شننې مرکز د قانون پلي کونکو ادارو څخه د مالي استخباراتو اړوند ۶۲ د مالوماتو غوښتنې ترلاسه کړې چې له دې ډلې څخه ۶۱ د مالوماتو غوښتنو ته ددې مرکز لخوا ځوابونه وړاندې شوي دي. له دغو ادارو سره د مالي استخباراتو د مالوماتو تبادله د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د ۲۸ مې مادې او لاسلیک شوو هوکړه لیکونو پر بنسټ ترسره کیږي.


قانون پلي کونکو ادارو سره د مالي استخباراتي مالوماتو د تبادلې بنسټیزه موخه د اغیزمنو مالوماتو شریکولو له لارې د پیسو وینځلو په مخنیوي کې د ملي همکارۍ پیاوړې کول دي.

لاندې جدول په ۲۰۲۴ زیردیز کال کې د افغانستان د مالي ریوټونو او معاملو د شننې مرکز لخوا د مالي استخباراتو اړوند مالوماتو ټولې ترلاسه شوې غوښتنې ښکاره کوي.

| شمېره | اداره | ټولټال ترلاسه شوې غوښتنې |
|---|---|---|
| ۱ | د استخباراتو لوې ریاست | ۳۵ |
| ۲ | د کورنیو چارو وزارت | ۲۷ |
| ټولټال اجراء شوې غوښتنې | | ۶۱ |
| د کار لاندې غوښتنې | | ۱ |

## د غوښتنې پر بنسټ د مالوماتو خپرول

| اصلي جرمونه | کال | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | ۲۰۲۰ | ۲۰۲۱ | ۲۰۲۲ | ۲۰۲۳ | ۲۰۲۴ |
| د پیسو وینځل | ۷ | ۸ | ۶ | ۴ | ۴ |
| د ترهګرۍ تمویل | ۷۸ | ۸۱ | ۱ | ۳ | ۲ |
| د شتمنیو ثبتول او تائیدول | ۳۷ | ۴۰ | - | ۱ | - |
| فساد او رشوت | ۸۵ | ۱۳۰ | ۲ | - | ۵ |
| د نشه يي توکو قاچاق | ۴۸ | ۳۱ | - | - | ۱ |
| مالیاتي جرمونه | ۲ | - | - | ۱ | ۱ |
| درغلی (Fraud) | ۲ | - | ۴ | ۹ | ۲۴ |
| تښتول او یرغمل کول | ۱ | ۱ | ۱ | ۱ | ۱ |
| اختلاس | - | - | - | - | - |
| جعل | ۵ | ۴ | ۱ | ۱ | ۴ |
| غلاوي | - | ۲ | ۱ | - | ۳ |
| د انټرنټ له لارې غلاوي (Wired Fraud) | ۱ | - | - | - | ۴ |
| وژنه او د بدن (Murder, Grievous Bodily Injury سخت ټپونه ) | ۲ | - | - | - | - |
| انساني قاچاق | ۵ | - | - | - | ۳ |
| قاچاق | ۲ | - | - | ۱ | ۱ |
| نور جرمونه | ۳۹ | ۵۸ | ۳ | | ۹ |
| ټولټال | ۳۱۴ | ۳۵۵ | ۱۹ | ۲۲ | ۶۲ |



## تفاهم لیکونه

د همغږۍ عالي کمېسیون د شپږمې غونډې د پرېکړې پر بنسټ، د پیسو وینځلو سره د مبارزې په تړاو د مالوماتو د تبادلې هغه تفاهم لیکونه چې پخوا د مالي رپوټونو او معاملو دشـــنې مرکز لخوا د قانون پلې کونکو او نورو اړوندو دولتي ادارو سره لاسلیک شوي دي، بیاځلي کتنه یې ترسره او لاسلیک شي.

د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شنې مرکز په ۲۰۲۴ کال کې په بریالیتوب سره له لاندې ادارو سره تفاهم لیکونه بیاځلي لاسلیک کړی دي:

| شمېره | د ادارې نوم | د تفاهم لیکونه ډول | د بیاځلی لاسلیک کیدلو نېټه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د کورنیو چارو وزارت او د افغانستان مالي رپوټونو او معاملو د شنې مرکز | دوه اړخیز | ۱۴۰۳/۷۰/۱۳ |
| ۲ | د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست او د افغانستان مالي رپوټونو او معاملو د شنې مرکز | دوه اړخیز | ۱۴۰۲/۱۲/۱۳ |
| ۳ | دکورنیوچارو وزارت دسرحدي پولیسو لوي ریاست، د ګمرکونو لوي ریاست، داستخباراتو لوي ریاست داقتصادي چارو ریاست او د افغانستان مالي رپوټونو او معاملو د شنې مرکز | څلور اړخیز | ۱۴۰۲/۱۲/۲۳ |

تمه کیږي چې دغه بیاځلي لاسلیک شوي تفاهم لیکونه به د پیسو وینځلو او نورو اړوندو اصلي جرمونو په تړاو د مالوماتو د تبادلې په برخه کې همکاري لا پیاوړې کړي.

## نړیوالې همکارۍ

د پیســو وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شــوو عوایدو د مخنیوي قانون د نړیوالې همکارۍ لپاره قانوني چوکاټ چمتو کوي.

د۲۰۲۱ کال د سیاسي بدلونونو څخه را وروسته، د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شنې مرکز غړیتوب په مختلفو نړیوالو سازمانونو کې وځنډول شو.

ددغو ننګونو سره همهال، د افغانســتان د مالي رپوټونو او معاملو د شــنې مرکز د رســمي لیکونو له لارې هڅه پیل کړې ترڅو له دغو اړوندو سازمانونو سره خپلې اړیکې بیرته ورغوي.

## پلي کېدونکي اقدامات

د پیســو وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شــوو عوایدو د مخنیوي قانون د ۲۴ مادې او د اړوندو مقررو پر بنســټ، د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شنې مرکز کولای شي چې د قانون سره سم تنفیذی اقدامات پلي کړي. یاد تنفیذی اقدامات د اخطاریو صــــادرول، د ســــوداګرۍ جوازونو لغوه کول او ځنډول، او همدارنګه د رپوټ ورکوونکو مراجعو د کارمندانو یا مدیرانو ګوښه کول رانغاړي.

لاندې جدول په ۲۰۲۴ کال کې د سرغړونکو (متخلفو) رپوټ ورکوونکو مراجعو پر وړاندې پلې شـوي تنفیذي اقدامات په ګوته کوي.

| شمېره | صادر شوې اخطارې | ځنډول شوې جوازونه | لغوه شوې جوازونه |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۱ | ۳ | ۱ |

## کنګل شوې حسابونه

د پیسو وینځلو او جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د ۳ مادې پربنسټ، کنګلول د واکمنې مرجع په وسیله د یوې معاملې د اجراء موقتي ځنډول یا د وجوهو او شتمنیو لېږدهاله درول یا د لېږد، بدلون، تبادلې، پلور، تفویض څخه منع کول دي.

د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز د ۲۰۲۴ زېردیز کال په اوږدو کې ۴۱ شرکتي او انفرادي بانکي حسابونه کنګل کړي چې په یادو حسابونو کې د کنګل شوو پیسو کچه (۶۴،۵۵۵،۸۲۵) افغانۍ او (۵۶،۴۳۸) امریکايي ډالرو ته رسیږي. د یادونې وړ ده چې یادې پیسې د درغلیو، جعلکارۍ، فساد او د پیسو وینځلو په تور کنګل شوې دي.

د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون ۳۷ ماده د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز لخوا د بانکي حسابونو د کنګلولو لپاره قانوني چوکاټ جوړوي.

د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز د پورته ذکر شوو حسابونو کنګلول په مخه نیونکې توګه یا د قانون پلې کېدونکو ادارو لکه د استخباراتو لوی ریاست او د کورنیو چارو وزارت د غوښتنې پر بنسټ ترسره کړي دي.

لاندې جدول په ۲۰۲۴ کال کې د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو  دشننې مرکز لخوا د کنګل شوو حسابونو ټولیز شمېر په ګوته کوي.

| کال | کنګل شوې حسابونه | کنګل شوې مبلغونه | |
|---|---|---|---|
| | | افغانۍ | امریکايي ډالر |
| ۲۰۲۴ | ۴۱ | ۶۴،۵۵۵،۸۲۵ | ۵۶،۴۳۸ |

## د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز تر نظر لاندی نوملړ

د مالي رپوټونو او معاملو د شـــننې مرکز تر نظر لاندی نوملړ یو داسې حمایوي ځانګړی ابزار دی چې له رپوټ ورکونکو مراجعو سره د پېرېدونکو د پېژندګلوی د تشخیصېدو او تثبیتېدو شـدید تدبیروونو (EDD) په پلې کولو کې مرسته کوي. دا نوملړ د پیســو وینځلو او نورو اصــلي جرمونو لپاره د پې نظمیو، احتمالي خطرونو او د لوړ خطر لرونکو اشــخاصــو په پېژندلو کې مرسته کوي.

د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شـویو عوایدو د مخنیوي قانون د ۳۲ مې او ۲۴ مې مادې او د پیسو وینځلو او نورو مالي جرمونو پر وړاندې د مبارزې د مســئولیتونو او مخه نیونکو اقداماتو د مقررې پر بنســټ، د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز د خپلو قانوني واکونو په درلودلو سره دا ډېټابېس جوړ کړی دی.

دا مرکز په منظم ډول رپوټ ورکونکو مراجعو او نورو اړوندو ادارو ته د لوړ خطر لرونکو اشـــخاصــو نوملړ خپروي ترڅو هغوي د پیسو وینځلو او نورو اصلي جرمونو د مخ په زیاتیدونکو ګواښونو څخه خبر وساتي.

لاندې جدول ددې مرکز تر نظر لاندی نوملړ احصـــایې وړاندې کوي چې د رپوټ ورکوونکو مراجعو او نورو اړوندو ادارو سره د حقیقی او حکمي اشخاصو پر بنسټ شریک شوی دی.

| سلنه | شامل شوي اشخاص | ۲۰۲۴ | ۲۰۲۳ | ډلبندي |
|---|---|---|---|---|
| ۷۹.۵ سلنه | ۳۴۷ | ۱۴۶ | ۱۰۱ | حقیقی اشخاص |
| ۲۰.۴ سلنه | ۸۹ | ۴۹ | ۴۰ | حکمی اشخاص |
| **۱۰۰ سلنه** | **۴۳۶** | **۱۹۵** | **۱۴۱** | **ټولټال حقیقی او حکمی اشخاص** |

د مالي رپوټونو او معاملو د شـــنې مرکز تر نظر لاندې نوملړ کې د شـــکمنتیا د ډول پر بنســـټ په ۲۰۲۴ کال کې د شـــامل اشخاصو ډلبندي

| سلنه | د ښکیلو اشخاصو شمېر | د شکمنتیا نښې |
|---|---|---|
| ۳۳ سلنه | ۶۴ | د پیسو وینځل |
| ۱۷ سلنه | ۳۴ | د پیسو وینځل او مالیاتي جرمونه |
| ۱۳ سلنه | ۲۶ | د پیسو وینځل او جعلکاری |
| ۰.۵۰ سلنه | ۱ | د پیسو وینځل او غیر مجوز صرافیو او پولي خدمتونه |
| ۱۶ سلنه | ۳۲ | فساد، بډې او مالیاتي جرمونه |
| ۰.۵۰ سلنه | ۱ | د نشه يي توکو قاچاق |
| ۳ سلنه | ۶ | جعلکاری |
| ۱۴ سلنه | ۲۸ | درغلی |
| ۱ سلنه | ۲ | انساني قاچاق |
| ۱ سلنه | ۲ | اختطاف، غیرقانوني محدودیت او برمته کول |
| **۱۰۰ سلنه** | **۱۹۶** | **ټولټال** |

**د ۲۰۲۴ کال په اوږدو کې په دې نوملړ کې د شامل شوو اشخاصو په وړاندې د رپوټ ورکوونکو مراجعو لخوا ترسره شوي اقدامات.**

| سلنه | د ښکیلو اشخاصو شمېر | ترسره شوي اقدامات |
|---|---|---|
| ۸۰.۸ سلنه | ۴۴۵ | د لوړ خطر لرونکو اشخاصو ډلبندي |
| ۷.۶ سلنه | ۳۹ | د شکمنو معاملو رپوټونو ثبتول |
| ۸.۸ سلنه | ۴۸ | تړل شوي بانکي حسابونه |
| ۲.۶ سلنه | ۱۲ | په بانکي حساب کې د اماناتو ایښودلو ممنوعیت (No Credit) |
| **۱۰۰ سلنه** | **۵۴۴** | **ټولټال** |

په ۲۰۲۴ کال کې، د مالي رپوټونو او معاملو د شنې مرکز ۱۸ اشخاص، چې ۱۷ یې حقیقي او ۱ حکمي وو، تر خپل نظر لاندې نوملړ څخه د اړوندو ادارو څخه د ترلاسه شو فیډبکونو پر بنسټ لرې کړي دي.

د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شنې مرکز تر نظر لاندې نوملړ څخه د اشخاصو ایستل یوازې د قانون پلي کوونکو ادارو او نورو اړوندو ادارو څخه د ترلاسه شوي فیډبک پر بنسټ ترسره کیږي، او دا ښيي چې نوموړي اشخاص ددې فیډبک له مخې د یادو ادارو په وړاندې نور کوم ځانګړې مکلفیت یا مسؤلیت نلري.

## د همغږۍ عالي کمېسیون

د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز د ۲۰۲۴ زیږدیز کال د اګست په ۲۰ مه نېټه د همغږۍ عالي کمېسیون اتمه غونډه ترسره کړه. یاده غونډه د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس تر مشرۍ لاندې د افغانستان بانک د عالي شورا په تالار کې ترسره شوه چې د وزارتونو د مرستیالانو او غړو ادارو لوړ پوړو استازو پکې ګډون کړی وو.
د غه کمېسیون د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزه رژیم د پلي کولو د څارنې مسئولیت په غاړه لري. سربېره پر دې، یاد کمېسیون د ۸ غړو وزارتونو او نورو اړوندو امارتي ادارو ترمنځ د همغږۍ په موخه د اغېزناکو میکانیزمونو د رامنځته کولو دنده لري ترڅو د ترهګرۍ د تمویل، پیسو وینځلو او نورو اصلي جرمونو سره د مبارزې په برخه کې ګډې هڅې پیاوړې کړي.
ددغې غونډې د جوړولو موخه د قانون پلي کوونکو ادارو او نورو اړوندو امارتي ادارو د هڅو همغږي کول دي ترڅو د پیسو وینځلو او نورو اصلي جرمونو په ګډون، د هر ډول مالي جرمونو سره په اغېزمنه توګه مبارزه ترسره شي.

## د قانون رعایتولو د همغږۍ کمېټه

د قانون رعایتولو د همغږۍ کمېټې لسمه غونډه د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز د لوي آمر په مشرۍ او د افغانستان بانک د بانکي څارنې او مالي خدمتونو او د خطرونو او قانون رعایتولو د آمریتونو د مرستیالانو، د بانکونو د اتحادیې عمومي رئیس او د سوداګریزو بانکونو د قانون د رعایتولو آمرینو په ګډون، د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر په ۱۷مه نېټه د افغانستان بانک د عالي شورا په تالار کې ترسره شوه.

په یاده غونډه کې د بانکونو د حقیقي او حکمي د پېرېدونکو د پېژندګلوۍ د فورمو د برېښنايي کولو، د پېرېدونکو د سندونو د تایید د اسانتیا په موخه د امارتي ادارو لکه د ګمرکونو عمومي ریاست، د احصایې او معلوماتو ادارې او د صنعت او سوداګرۍ وزارت سره د همغږۍ د پیاوړي کولو د اهمیت، د سوداګریزو بانکونو کارکوونکو ته د ظرفیت لوړولو پروګرامونو جوړولو او د قانون د رعایتولو اړوند په نورو بیلابیلو موضوعګانو په اړه هر اخیز بحث ترسره شوو.

همدغه راز، په دې غونډه کې د پېرېدونکو د دقیقې پېژندنې په پار وخت پر وخت د پېرېدونکو د پېژندنې د فورمونو تجدیدول اړین وبلل شوو، او بانکونو ته سپارښتنه وشوه چې د کنټرولونو د پیاوړتیا په موخه په بانکي سکتور کې د شته زیان منونکو برخو او د ستونزو د حل لپاره باید د خطرونو ارزونه په اغېزمنه توګه پلي شي.

سربېره پر دې، د سوداګریزو بانکونو د قانون رعایتولو برخې مسوولینو ته سپارښتنه وشوه چې د هغو صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو پورې اړوند بانکي حسابونه چې فعالیت یې بند کړی وي یا جوازونه ځنډول شوي او یا هم لغوه شوي وي، وتړل شي او همدارنګه د سوداګریزو موخو لپاره د انفرادي حسابونو کارولو مخه ونیول شي.

په پای کې، د شکمنو او له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو د رپوټونو د کیفیت په ښه کولو ټینګار وشوو او یادونه وشوه چې دا ډول رپوټونه د بانکي سیستم د روڼتیا د ساتلو لپاره مهم خورا مهم دي.

## مشخص غیر مالي تشبثونه او حرفې

مشــخص غیر مالي تشــبثونه او حرفې د خپلو ماهیتي ځانګړتیاوو او لوړ ارزښــت لرونکو معاملو کې د ښــکېلتیا له امله د پیسـو وینځلو او نورو مالي جرمونو پر وړاندې خورا زیان منونکي بلل کیږي. یو شـمېر تشـبثونه او حرفې لکه؛ د سرو رزو او قیمتي ډبرو پلورونکي، محاسـبین، مفتیشـین، د معاملو د لاربشــونې دفترونه، موترو پلورونکي او غیر دولتي مؤسـسې- خورا زیان منونکي دي او د غیرقانوني وجوهو د پټولو لپاره کارول کیداشي.

د مالي اقداماتو د کاري ډلې سـپارښـتنې او د پیسـو وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شـوو عوایدو د مخنیوی قانون ۵ ماده ټینګار کوي چې په ملي کچه د پیسـو وینځلو او نورو مالي جرمونو سره د مبارزې په چوکاټ کې د مشـخص غیر مالي تشـبثونو او حرفو لپاره باید یوه جامع کړنلاره شـتون ولري. د پیسـو وینځلو او جرمونو څخه د راپیدا شـوو عوایدو د مخنیوي قانون پربنسټ، مشخص غیر مالي تشبثونه او حرفې اړ دي چې شکمن فعالیتونه وپیژني او د افغانستان د مالي ربوټونو او معاملو د شـنې مرکز ته یې رپوټ وړاندې کړي. په دې اساس، د مشخص غیر مالي تشبثونو او حرفو مدیریت ددې مرکز په اداري جوړښـت کې د یوې جلا ځانګې په توګه رامنځته شـوو او په ۲۰۲۳ کال کې یې خپل فعالیت پیل کړ ترڅو د یاد سکتور څخه څارنه وکړي او په دغه سکتور کې د قانون رعایتول ډاډمن کړي.

د افغانسـتان د مالي ربوټونو او معاملو د شـنې مرکز د ۲۰۲۴ کال په اوږدو کې د مشـخصـو غیر مالي تشـبثونو او حرفو سکتور د مدیریت کولو په موخه لاندې نوښتونه پلي کړي دي:

۱) **د** بلخ، هرات او کندهار ولایتونو کې د سرو رزو او قیمتي ډبرو پلورونکو په اړه د یوې تشریحي او تحلیلي سروې په لاره اچول چې د یادو ولایتونو ولایتي چارواکو، د صنایعو او سوداګرۍ، عدلیې، ښاروالۍ، مالیې، د کانونو او پطرولیم ریاستونو او د سرو رزو پلورونکو اتحادیو پکې ګډون کړی وو. همدارنګه، له یادو ولایتونو څخه د راټول شـویو مالوماتو پربنسـټ، د سرو زرو پلورونکو سـکتور د پوښـښ په موخه یوه ځیرنیزه طرحه ترتیب او د افغانسـتان بانک د قدر وړ عامل پلاوي ته وړاندې شــوه چې د یاد پلوي د تایید وړ وګرځیده او په پایله کې د غیر بانکي مالي موســســو د څارنې آمریت په اداري جوړښت کې هم د مشخص غیرمالي تشبثونو او حرفو مدیریت رامنځته شوو ؛

۲) په کابل ولایت کې د پینځو موټر پلورنکو اتحادیو، ولایتي چارواکو او اړوندو ریاستونو سره په همغږۍ د موټرو پلورنې د سکتور په اړه ورته سروې ترسره کېدل؛

۳) د موټر پلورونکو د سکتور لپاره د پیسو وینځلو پر وړاندې د مبارزې میکانیزم د ترتیبول په موخه د عدلیې وزارت د قانون جوړونې عمومي ریاست له چارواکو سره د یوې ګډې کمیټې رامنځته کول او د پیسو وینځلو او نورو مالي جرمونو سره د مبارزې په برخه کې د دوه اړخیزو همکاریو د پیاوړتیا په اړه د غونډو ترسره کول؛ او

۴) په ملي کچه په کاري کمیټو کې ګډون کول ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې مشخص غیر مالي تشبثونه او حرفې د پیسو وینځلو او نورو مالي جرمونو سره د مبارزې په موخه په پراخه ملي ستراتیژیو کې مدغم شي.

## د معلوماتي ټکنالوجۍ د نوښتونو پلي کول

د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز په ۲۰۲۴ کال کې د عملياتي اغېزمنتيا د لوړولو او د قانون د رعايت د ډاډمنولو په موخه څو بېلابېل ټکنالوجيکي نوښتونه پلي کړي دي. یو له مهمو نوښتونو څخه د صرافيو او پولي خدمتونو شرکتونو د قراردادونو اړوند د رپوټونو د څارنې لپاره د ډېټابېس رامنځته کول يادولای شوو. دغه ډېټابېس د قانون رعايتولو د ښه والي، د مالي مرستو د روڼتيا د لوړولو او حساب ورکولو څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه رامينځته شوی دی.

همدارنګه، ددې مرکز لخوا د سندونو د ښه مديريت لپاره يو نوی سيستم رامنځته شوو، چې د سندونونو د اغېزمن ذخيره کولو، تنظيمولو او بېرته ترلاسه کولو، د کاغذ کارکمولو او د وخت ضايع کيدو په مخنيوي کې مرسته کوي او د کاري جريان مديريت په ښه والي او د ادارې د اغېزمنتيا په زياتولو کې مهم رول لوبوي.

د يو بل نوښت په توګه، د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز د خپلو تجهيزاتو او وسايلو د اغېزمن تعقيب په پار د موجودي ډېټابېس را متنځته کول وو. دغه ډېټابېس د زيرمو د کچې مديريت، کارونې او ساتنې مهال ويشونو د څارنې لپاره يوه اسانه لار برابروي او د سرچينو دقيق او اغېزمن مديريت ډاډمنوي.

سربېره پردې، د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز د آنلاين سرچينو او وسايلو ته د مرکزي لاسرسي په موخه د هبلنک په نوم يو پورټل رامينځته کړ، چې ددې مرکز کارکوونکو ته دا وړتيا ورکوي چې اړينو لينکونو او ابزارو ته، پرته لدې چې د لټون لپاره يې ډير وخت مصرف کړي، په چټکۍ او مؤثره توګه لاسرسی ومومي.

په ټوليز ډول، دا نوښتونه د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز د ژمنتيا څرګندونه کوي چې د ټيکنالوجۍ په کارولو سره د عملياتي اغېزمنتيا لوړولو او د څارنيزو اړتياو سره سم د قانون رعايتولو د پياوړتيا لپاره هڅه کوي.

## د ظرفيت لوړونې پروګرامونه

د ۲۰۲۴ کال په ترڅ کې، د افغانســـتان د مالي رپوټونو او معاملو د شـــنې مرکز د ســـوداګريزو بانکونو، د صرافيو او پولي خدمتونو شرکتونو او د قانون پلي کونکو ادارو کارکوونکو لپاره د ظرفيت لوړولو پروګرامونه په لاره واچول، چې د ظرفيت لوړولو دغه پروګرامونه د مالي جرمونو د مخ پر ودې ګواښونو سره مبارزې په برخه کې ځانګړې اهميت لري.

لاندې جدول په ۲۰۲۴ کال کې د افغانستان د مالي راپوټونو او معاملو د شننې مرکز لخوا د ترسره شوو ښوونیزو پروګرامونو په اړه تفصیلي مالومات وړاندې کوي.

| شمېره | ښوونیز پروګرام | د ګډون کوونکو شمېر | ځای | نېټه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د قانوني مکلفیتونو پربنسټ د شکمنو معاملو او له حد څخه د زیاتو نغدي معاملو د ریپوټ ورکولو څرنګوالي ته بیاکتنه<br>د شکمنو معاملو او فعالیتونو پېژندل<br>د شکمنو او له حد څخه د زیاتو نغدی معاملو د رپوټونو د استولو څرنګوالی<br>د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز تر نظر لاندې نوملړ د پلي کولو اهمیت | ۱۵ | د افغانستان بانک د ښوونیزو پروګرامونو مرکز - کابل | ۴ سرطان ۱۴۰۳ |
| ۲ | د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د سنې مرکز معرفي کول<br>د پیسو وینځلو او د مالوماتو د تبادلې اهمیت<br>د مالي جرمونو څېړنه | ۳۰ | د کورنیو چارو وزارت - کابل | ۱۴۰۳ |
| ۳ | د شکمنو معاملو د شاخصونو او د خطر نښو معرفي کول او پېژندل<br>د بریښنایي ریپوټ ورکولو پروسې تشریح کول<br>د صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو په لیپ ټاپ کمپیوټرونو کې د PGP سافټویر نصب کول<br>د رپوټونو خوندیتوب او په محرم ډول د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز ته استول | ۹۳۶ | د افغانستان بانک د ښوونیزو پروګرامونو مرکز - زونونه | ۱۴۰۳ |

## ترهګرۍ سره د مبارزې اسلامي نظامي ائتلاف په سیمینارونو، سمپوزیمونو او ورکشاپونو کې ګډون کول

ترهګرۍ سره د مبارزې اسـلامي نظامي ائتلاف (IMCTC) د ترهګرۍ ضـد یو بین الحکومتي ائتلاف دی چې په ۲۰۱۵ کال کې په سـعودي عربسـتان کې د ترهګرۍ ضـد فعالیتونو په برخه کې د اسـلامی هیوادونو د هڅو د یوځای کولو په موخه رامنځته شـو. ترهګرۍ سره د مبارزې اسـلامی نظامي ائتلاف د ایډیالوژۍ، اړیکو، نظامي او د ترهګرۍ سره د مبارزې برخو کې فعالیت کوي. افغانستان په ۲۰۱۸ کال کې د ترهګرۍ سره د مبارزې اسلامي نظامي ائتلاف غړیتوب ترلاسه کړ.

د افغانســتان د مالي رپوټونو او معاملو د شــنې مرکز اســتازی او د یاد ائتلاف لپاره د افغانســتان د پلاوي غړي په لاندې ســیمینارونو، ســمپوزیمونو، پرزنټیشــنونو او نورو اړوندو پروګرامونو کې برخه واخیســتې ده چې په ۲۰۲۴ کال کې د یاد ائتلاف لخوا ترسره شوي دي.

| شمېره | ښوونیز پروګرام | د پروګرام ډول | نېټه | موقعیت |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ډیجیټل ټیکنالوجي له لارې د ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره راتلونکې لیدلوری | سمپوزیوم | ۲۰۲۴ | ریاض، عربستان سعودی |
| ۲ | د تاوتریخوالي او افراطیت څخه د ښځو خوندیتوب | سمپوزیوم | ۲۰۲۴ | ریاض، عربستان |
| ۳ | ستاسو پوهاوی، ستاسو خوندیتوب تر سرلیک لاندې ښوونیز پروګرام | آنلاین ښوونیز پروګرام | ۲۰۲۴ | ریاض، عربستان |
| ۴ | اتومي، کیمیاوي او بیولوژیکي جګړه | پرزنټیشن | ۲۰۲۴ | ریاض، عربستان |

## د ۱۴۰۴ مالي کال لومړیتوبونه

۱ د پیسو وینځلو او فتنه اچونکو ډلو د مالي ملاتړ د ګواښونو ملي ارزونې په لاره اچول

۲ د افغانستان د مالي ریوټونو او معاملو د شنني مرکز د کارکوونکو لپاره د ظرفیت لوړولو پروګرامونه چمتو کول

۳ د ریوټ ورکوونکو مراجعو لپاره د ظرفیت لوړولو پروګرامونه جوړول

۴ د ادارو تر منځ د همکارۍ پیاوړي کول

د اړیکو شمېره: 202106154 93+
ایمیل آدرس: info@fintraca.gov.af
ویب سایت: www.fintraca.gov.af